# د افغانستان سره د آلمان همکاری
# مطبوعاتی خبر

## د کرنې او لاسي صنایعو نړیوال سوداګریز نندارتون په مزارشریف کې پرانیستل شو

مزارشریف، بلخ، د ۱۳۹۲ کال د غویی د میاشتې ۷ مه نیټه – نن په مزارشریف کې د بلخ نړیوال نندارتون پرانیستل شو. د بیلابیلو سکتورونو او ولایاتو څخه د ۱۰۰ تنو نه زیات ښځینه او نارینه نندارتونوالو په دې څلور ورځنیز نندارتون کې برخه اخیستې ده چې هلته کولای شي خپل محصولات لیدونکو ته وړاندې کړي او سوداګریزې شبکې منځته راوړي. د هغو له ډلې څخه ۳۵ تنو د افغان-المان د همکاری د پایښتونکي اقتصادي پراختیا او کارموندنې د ودې د پروګرام (SEDEP) څخه مالي مرسته په لاس راوړیده. د بلخ د سوداګری او صنعت خونې دغه نندارتون جوړ کړی دی.

د دې کال نندارتون پاملرنه هغو شرکتونو او موسسو ته شویده چې ښځې یې څښتنتوب لري. د کوچنیو او منځنیو شرکتونو زیات شمیر ښځینه خاوندانې په سوداګریزو خونو کې خپل محصولات نندارې ته وړاندې کوي او هغه خلکو ته ښکاره کوي، ترڅو چې په تیره بیا د بالقوه پانګوالو او پیرودونکو پاملرنه خپلو محصولاتو ته راواړوي.

د میرمن فرزانه په نامه یوه ښځینه سوداګره چې په نومورې نندارتون کې یې برخه اخیستې ده داسې وویل: "په افغانستان کې د کار او بار چاپیریال تل د ښځو په ګټه نه دی او مونږ نه شو کولای په آسانۍ سره مارکیټ ته لاسرسی پیدا کړو. دا نندارتون ما او نورو سوداګرو ښځو ته د دې امکان برابروي چې خپل محصولات معرفي او وپلورو او سوداګریزې شبکې منځته راوړو. په دې توګه مونږ کولای شو په آسانۍ سره مارکیټ ته لاسرسی پیدا کړو. البته دا نندارتون زمونږ د تولیداتو د شهرت او اعتبار کچه هم لوړوي."

د نومورې نندارتون بله موخه داده چې د افغانستان په شمالي ولایاتو کې د ولایتي او سیمه ایزو سوداګرو ترمنځ سوداګریزې اړیکې او همکاری تینګې کړي. دې موخې ته د رسیدلو دپاره د المان د همکاری د پایښتونکي اقتصادي پراختیا او کارموندنې د ودې پروګرام د بلخ، تخار، سمنګان، بغلان او بدخشان د ۳۵ تنو تهیه کوونکو، کروندګرو، پروسس کوونکو او سوداګرو څخه ملاتړ وکړ. د دې ملاتړ موخه دا وه چې دوی په نومورې نندارتون کې ګډون وکړي او د بالقوه پارټنرانو او پانګه والو سره تړونونه لاسلیک کړي.

د بلخ نندارتون د ټولو لیدونکو پرمخ پرانیستی دی او د څلورو ورځو دپاره دوام مومي.

***د پایښتونکي اقتصادي پراختیا او د کارموندنې د ودې (SEDEP) پروژه چې د المان د حکومت له خوا تمویلږي په افغانستان کې د سوداګری د ټینګښت او د کار د ځایونو د منځته راوړلو په موخه د مغزیاتو، لبنیاتو، چرګانو، غنمو او سابو په پنځو ارزښتي ځنځیرونو کې د بیلابیلو فعالیتونو څخه ملاتړ کوي. دغه پروژه د روزنې او د بیخبنا د پراختیا د نوښتونو ترڅنګ، د دولتي او خصوصي سکتورونو د چاروا کو ترمنځ د خبرو اترو او دیالوګ په جوړولو کې هم مرسته کوي. بزګران او حکومت کولای شي د خلکو اندیښنې رفعه کړي او د اقتصادي فرصتونو د سمون دپاره د پالیسۍ وړاندیزونه طرحه کړي.***

Released by the PR-Unit of the German Cooperation with Afghanistan.
For further information please contact: pr-unit-afghanistan@giz.de